# يو سړی رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی او د ځینو کارونو په اړه یې ورسره خبرې وکړې، نو ویې ویل: هغه څه کیږي چې الله ئې وغواړي او ته یې وغواړې، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: «أَجَعَلْتَنِي لِلَّهِ عَدْلًا؟ قُلْ: مَا شَاءَ اللهُ وَحْدَهُ». «آیا زه دې له الله جل جلاله سره برابر وګڼلم؟ ووایه: هغه کیږي چې یوازې الله یې وغواړي

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې: یو سړی رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی او د ځینو کارونو په اړه یې ورسره خبرې وکړې، نو ویې ویل: هغه څه کیږي چې الله ئې وغواړي او ته یې وغواړې، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: «أَجَعَلْتَنِي لِلَّهِ عَدْلًا؟ قُلْ: مَا شَاءَ اللهُ وَحْدَهُ». «آیا زه دې له الله جل جلاله سره برابر وګڼلم؟ ووایه: هغه کیږي چې یوازې الله یې وغواړي».

[إسناد یې حسن دی]

یو سړی رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی نو په ځینو کارونو کې یې ورسره خبرې وکړې بیا یې ورته وویل:"ما شاء الله وشئت"، یعني څه چې الله وغواړي او ته یې وغواړې"، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم یې دا وینا وغندله او خبر یې کړ چې د الله تعالی له خوښې سره د بنده د خوښې یادونه کوچنی شرک دی، مسلمان ته روا ندي چې دا ډول وینا وکړي، بیا یې دې حقې وینا ته د هغه لارښوونه وکړه چې ووایي "ما شاء الله وحده"، یعني هغه کار کیږي چې یوازې الله یې وغواړي، نو الله جل جلاله ته په اراده کې یوازې والی ثابتوي او په هیڅ ډول ورسره بل شی نه یو ځای کوي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5928

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee